مسیر
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
یکشنبه د ۱۳۹۹ د غبرگولي ۲۵مه | د ۲۰۲۰ د جون ۱۴مه | ۵۴۹مه گڼه

# امریکايي جنرال ته د طالبانو ځواب؛

## چا ته اجازه نه ورکوو چې له افغانستان څخه پر امریکايي گټو بریدونه وکړي


۳

غندنه نه، ساتنه پکار ده
۲ مخ

افغان سوله؛ د افغان حکومت او طالبانو د دریځونو پرتله
۲ مخ

امریکا د زوال پر لوري
۳ مخ

## ملي شورا له نړیوال مالي صندوق څخه د ۲۲۹ میلیونو ډالرو د پور اخیستلو وړاندیز تصویب کړ

ملي شورا له کروناویروس سره د مبارزې لپاره له نړیوال مالي صندوق (IMF) څخه د ۲۲۹ میلیونو ډالرو د پور اخیستلو په تړاو د افغان حکومت وړاندیز تصویب کړ. په پارلماني چارو کې د دولت وزارت تېره ویلي چې له نړیوال مالي صندوق څخه د ۲۲۹ میلیونو ډالرو د پور اخیستلو وړاندیز د ولسي جرگې او مشرانو جرگې د گډ کمېسیون له خوا د رایو په اکثریت تایید او نهایي شوی دی.
د دغه وزارت په فېسبوک پاڼه کې په یوې خپرې شوې اعلامیې کې راغلي: «په پارلماني چارو کې د دولت وزیر د ولسي جرگې او مشرانو جرگې له گډ کمېسیون څخه د زړه له تله مننه کوي چې له کرونا نړیوال افت سره د اغېزناکې مبارزې په برخه کې یې دا مهم گام واخیست او د دولت د تاکل شویو ملي موخو په ترلاسه کولو کې یې خپل ملي سهم ادا کړ». په اعلامیې کې دغه راز ویل شوي چې نړیوال مالي صندوق د دغه پور په بدل کې له افغان دولت څخه هېڅ ډول ټیکټانه نه اخلي او که په راتلونکو لسو کلونو کې د اقتصادي ستونزو له امله دا پور ادا نه کړي، نو ۲۰ سلنه ورته بښل کېږي. افغان دولت له نړیوال مالي صندوق څخه د میلیونونو ډالرو د پور اخیستلو دا وړاندیز په داسې حال کې کوي چې په دغه هېواد کې له کروناویروس سره د مبارزې په برخه کې په شفافه توگه د نړیوالو مرستو په مصرفولو کې اندېښنې موجودې دي.
له دې وړاندې نړیوال مالي صندوق اعلان کړی و چې د کروناویروس سره د مبارزې لپاره د افغانستان په گډون له هغو ۲۵ هېوادونو سره ۵۰۰ میلیونه ډالر مرسته کوي چې اقتصاد یې کمزوری دی.

## په تېرو دوو اونیو کې ۲۳۹ ملکیانو ته مرگ ژوبله اوښتې ده



۵ مخ

پوهنتون
۴ مخ

## رابعه بلخي خصوصي پوهنتون

په رابعه بلخي خصوصي پوهنتون کې اوسمهال پنځه زره محصلین په بېلابېلو پوهنځیو کې پر لوړو زده کړو بوخت دي، چې ۶۰ سلنه یې نارینه او پاتې ۴۰ سلنه یې ښځینه دي.




## مالیې وزارت د ۱.۳۶ میلیونو ډالرو په لگښت د گمرکونو دکنټرول مرکزي سیستم پرانیست



مالیې وزارت له فساد سره د جدي مبارزې او په گمرکونو کې د روڼتیا تامینولو په موخه د گمرکونو کنټرول مرکزي سیستم پرانیست. دغه وزارت وایي، د یاد مرکز په پرانیستلو سره به له گمرکي تخلف، په جنس، قیمت او کیفیت کې له بدلون، زیات وزن او همداشان د مراحلو له تر سره کولو پرته له گمرکي محصول څخه مخنیوی وشي.
د مالیې وزارت سرپرست وزیر عبدلهادي ارغندیوال په دې پرانیست غونډه کې وویل: «د گمرکونو کنټرول مرکزي سیستم چې موږ یې د پرانیستلو شاهدان یوو، د فساد په کمولو او د گمرکي محمولو په طی مراحلو کې د اسانتیا رامنځته کولو په برخه کې له مهمو پروژو څخه شمېرل کېږي.» د یادونې ده چې یاده پروژه په دریو برخو کې د نیوزن ټکنالوژي او پریماسونک په نوم د هندي کمپنۍ له لوري د ۱.۳۶ میلیونه امریکایې ډالرو په لگښت پلې او گټې اخیستنې ته وسپارل شوه.

## دیپلومات ها: احضار کردن سفیر افغانستان در ایران، خلاف تمامی عرف دیپلوماتیک است




وزارت خارجهٔ ایران می‌گوید که عبدالغفور لیوال، سفیر افغانستان در تهران را در پیوند به «اقدامات اهانت‌آمیز و تعرض به سفارت جمهوری اسلامی ایران و سایر نماینده‌گی‌های» این کشور در افغانستان، احضار کرده‌است.
در خبرنامه‌یی که از سوی وزارت خارجهٔ ایران نشر شده آمده‌است که این اهانت و تعرض از سوی «عده‌یی معدود از جریانات خاص سیاسی» صورت گرفته‌است. در خبرنامه هم‌چنان آمده‌است: «مدیر کل آسیای غربی وزارت امور خارجه مراتب نگرانی از تاثیر اقدامات غلط این گروه قلیل بر روابط همسایگی دو کشور را ابراز کرد.» این در حالیست که اخیراً شماری از شهروندان افغانستان – در کابل، هرات و چند ولایت دیگر – در پیوند به جان باختن شماری از مهاجران افغان در ایران در رویداد آتش گرفتن موتر حامل آنان و نیز به دریا انداختن شماری دیگر از پناه‌جویان از سوی مرزبانان ایران، دست به اعتراض زده بودند. اما این کار وزارت خارجهٔ ایران، با واکنش‌هایی در کابل به‌همراه شده‌است.
احمد سعیدی، دیپلومات پیشین افغانستان در پاکستان در این باره اظهار داشت: «مردم عام افغانستان از حوادث اخیر که بر مهاجران افغان در ایران رخ داده، هنوز داغ دار استند. اما بر خلاف تمام عرف دیپلوماتیک سفیر افغانستان در ایران به وزارت خارجه ایران احضار شده‌است.» شماری از دیپلومات‌های افغانستان این کار ایران را مخالف عرف دیپلوماتیک می‌دانند و می‌گویند که آنان انتظار داشتن این عمل را وزارت خارجه افغانستان بخاطر جان باختن شهروندان این کشور از سوی مرزبانان ایران انجام می‌داد.



دریـــځ

## غندنه نه، ساتنه پکار ده

ولسمشرۍ ماڼۍ، د مصالحې عالي شورا، د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسیون، په افغانستان کې د ناټو ملکي استازي، پخواني ولسمشر حامد کرزي، په کابل کې د امریکا سفارت او ډېرو نورو دولتونو او بنسټونو په شېرشاه سوري جومات کې چاودنه غندلې ده. د جمعې په ورځ په شېرشاه سوري جامع جومات کې د لمانځه پر مهال چاودنه وشوه چې د ملا امام په ګډون پکې څلور کسان شهیدان شول او اته تنه نور ټپیان شول. طالبانو چاودنه غندلې او دا یې د استخباراتي کړیو کار بللی دی. حکومت خو د تل په شان دا برید هم غندي، د وطن د دښمنانو کار یې ګڼي او د پلټنو خبره کوي.

په دې وروستیو کې افغانانو له یوه پېچلي وحشت سره مخ دي. هېڅ ځای خوندي نه دی، کلی، کور، ښار، سړک، جومات، ښوونځی، روغتون، لوبغالی او هېڅ ځای خوندي نه دی. په هر ځای کې د وحشت او چاودنې شونتیا شته او کېږي. حکومت دښمن وحشي ګڼي، بریدونه غندي، خواخوږي څرګندوي، د امنیتي ځواکونو د قربانیو خبره کوي، په راتلونکي کې د خپلو تیاریو او بریاوو خبرې کوي، د پلټنو او کمېسیون ټاکلو خبره کوي، خو وحشت همغسې روان دی او زیاتیږي. خلک نه پوهېږي چې دا وحشت څوک او ولې کوي. طالبان وایي چې دا د سولې دښمنان کوي او غواړي د سولې خبرې له خنډ سره مخ کړي، خو د سولې دښمنان معلوم نه دي. په حکومت کې ځینې چارواکي په دې بریدونو کې طالبان دخیل ګڼي، خو ځینې بیا وایي، داعش یې کوي او ځیني هم وایي چې داعش او حقاني شبکه یې په ګډه کوي.

دا چې برید څوک کوي دا یو بحث دی، له شک پرته چې وحشي او له اسلامه لرې ډلې او اشخاص دا ډول کړنې کولی شي، خو ولې یې مخه نه نیول کېږي او ولې بیا بیا دښمن بریالی کېږي چې دا ډول وحشت وکړي؟! حکومت به وایي، ترهګر ساده هدفونه په نښه کوي، خو په دې وروستیو کې جوماتونو او دیني عالمانو ته ګواښ زیات دی، هدف هم معلوم دی، خو بیا هم تدابیر نشته، ولې!؟

د نورو په ملامت ګڼلو او د دښمن په وحشي معرفي کولو سره ستونزه نه حل کېږي. حکومت باید ځواب ووایي. نور د وحشتونو د غندلو او د دښمن د وحشي ښودلو وخت تېر دی. شهیدان هسې خدای بښلي، د چارواکو دعا ته اړتیا نه لري. خلک پوهېږي چې دښمن وحشي دی او په هر ځای کې برید کوي. که حکومت دا خبرې وکړي او که نه، خو دا د حکومت مسوولیت نه کموي. حکومت شته، ۳۵۰ زره ځواکونه لري، د نړۍ له ستر زبرځواک سره امنیتي او ستراتېژیک تړونونه لري، ناټو یې تر څنګ ولاړه ده او ګڼ نور هېوادونه یې هم ملاتړ کوي. اوس حکومت باید ځواب ووایي چې له دې ټول قوت او ملاتړ سره سره، ولې د ارګ په څنګ کې یو جومات نه شي خوندي کولی. کله چې په وزیر اکبرخان جومات برید کېږي، په کابل کې په دوو- دریو لویو جوماتونو کې شېرشاه سوري جومات راځي، حکومت ولې د دغو جوماتونو امنیت ته پام نه کوي. زموږ استخباراتي او امنیتي ځواکونه په څه بوخت دي!؟

حکومت ته پکار ده چې نور خپلې دندې ته پام وکړي. د حکومت دنده غندل او خواخوږي څرګندول نه، بلکې د خلکو ساتنه ده. تر بلې هر چارې ډېر حکومت ته باید د خلکو ژوند مهم وي او په دې برخه کې هېڅ ډول غفلت د زغم وړ نه دی.

# افغان سوله؛ د افغان حکومت او طالبانو د دریځونو پرتله

لیکوال: ضیاءالاسلام شېراني/ کوبها ډیالوګ

تېره اونۍ د افغان سولې لپاره د امریکا ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد یوځل بیا په خپل تازه پیل کړي سفر کې لومړی په قطر کې له طالبانو او ورپسې په اسلام آباد کې له پاکستاني چارواکو سره د افغان سولې اړوند خبرې وکړې. په قطر کې د طالبانو د سیاسي دفتر ویاند سهیل شاهین ویلي، چې زلمی خلیلزاد له ملا برادر او ورسره هیئت سره د طالب بندیانو د خلاصون او بین‌الافغاني مذاکراتو په اړه غږېدلی دی.

د ۱۳۹۸ل کال د کب پر لسمه د امریکا او طالبانو ترمنځ د سولې تړون وشو. په دغه تړون کې د نورو مهمو موضوعاتو ترڅنګ ویل شوي وو، چې طالبان به د تړون له لاسلیک څخه وروسته تر راتلونکو لسو ورځو (۱۳۹۸/۱۲/۲۰) له افغان حکومت سره د سولې خبرې‌اترې پیلوي او په بین‌الافغاني خبرو کې به بشپړ او دایمي اوربند په اجنډا کې وي؛ خو د نږدې څلورو میاشتو په تېرېدو سره لا هم بین‌الافغاني خبرې نه دي پیل شوې.

ظاهراً د بین‌الافغاني خبرو د ځنډ او نه پیلېدو پر وړاندې خنډ د پنځو زرو طالب بندیانو نه خلاصون دی. که څه هم د بندیانو په خلاصون کې ځنډ راغی، خو داسې ښکاري چې د امریکا او طالبانو ترمنځ د شوې هوکړې له مخې به پنځه زره طالب بندیان خوشې کېږي؛ ځکه افغان حکومت تر دې دمه څه باندې دوه نیم زره طالب بندیان او طالبانو څه باندې پنځه سوه حکومتي بندیان له بنده خوشې کړي دي.

پوښتنه دا ده چې د افغان سولې او د بین‌الافغاني خبرو اړوند د طالبانو او حکومت دریځونه څه دي او د دواړو لوریو د دریځو په پام کې نیولو سره به بین‌الافغاني خبرې کله پیل شي؟ په دغه لیکنه کې هڅه شوې چې دغه پوښتنې ځواب کړل شي.

د ولسمشر غني د سولې تګلاره

د ۲۰۱۴ ز کال له ټاکنو وړاندې سوله او د روانې جګړې پای ته رسول د اشرف غني له مهمو ټاکنیزو شعارونه څخه وو. اشرف غني د ملي یووالي حکومت پر مهال په مختلفو ډولونو هڅه وکړه، چې د طالبانو او افغان حکومت ترمنځ د سولې خبرې پیل شي او روانه جګړه د بین الافغاني خبرو له لارې پای ته ورسېږي، خو ظاهراً د سولې په تړاو د نومړي دغه ټولې هڅې ځکه بې پایلې وې، چې ممکن د یوې حکومت‌محوره پروسې لپاره به وې. یعنې داسې بربنښېدل چې افغان حکومت هڅه کوي طالبان هم د حزب اسلامي په شان سولې ته غاړه کېږدي او د یوې ډلې په توګه له افغان حکومت سره یو ځای شي. باالمقابل طالبانو د افغان سولې په برخه کې تل له افغان حکومت سره له داسې خبرو ځان په شا کړی او ډېری وخت یې افغان حکومت د « کابل اداره» په نوم یادولو سره د ټولو افغانانو له استازولۍ ایستلی ګڼلی دی.

په وروستیو کې د افغان سولې په تړاو د امریکا ـ طالبانو ترمنځ تړون او په دغه تړون کې افغان حکومت ته برخه نه ورکول، د کابل ـ واشنګټن ترمنځ د اختلافاتو د را پیدا کېدو لامل شو. په یاد تړون کې د بین‌الافغاني خبرو له پیل نه مخکې د (۵۰۰۰) طالب او (۱۰۰۰) حکومتي بندیانو د خلاصون خبره شوې وه؛ خو افغان حکومت د دې هوکړې مخالفت وکړ. اشرف غني د تړون له لاسلیک څخه یوه ورځ وروسته ښکاره وویل، چې امریکا د افغان حکومت له زندانونو څخه د بندیانو د خلاصون صلاحیت نه لري او نه هم افغان حکومت په دې برخه کې کوم تعهد کړی دی.

د همدې مخالفت سربېره څو ورځې وروسته ولسمشر غني د سولې په برخه کې د مرکچي پلاوي جوړېدو او په مشروط ډول د ۱۵ سوه طالب زندانیانو د خلاصون فرمان ورکړ. دغه راز د نورو بندیانو خلاصون یې د بین‌الافغاني خبرو د پرمختګ، اوربند او یا هم د جګړې په میدانونو کې د پام وړ تاوتریخوالي په کموالي پورې وتاړه. که څه هم تر دې دمه د حکومت او طالبانو د بندیانو تبادله روانه ده، همدارنګه د اختر په ورځو کې درې ورځنی اوربند هم وشو؛ خو لا هم د جګړې میدانونه ګرم دي.

دا ټول ښیي چې د سولې په تړاو هڅې لا همد بې باوریو سره مل دي. افغان حکومت د سولې په روانو خبرو کې خپل ځای او دریځ پخول غواړي، هڅه یې داده چې له طالبانو سره د افغانستان اسلامي جمهوري دولت په استازولۍ خبرې وکړي، نه «د کابل اداري» په نوم!

طالبان څه ډول سوله غواړي؟

په ۲۰۰۱ز کال کې د طالبانو د رژیم له ړنګېدو سره د امریکا او نړېوالې ټولنې په مرسته په افغانستان کې نوی حکومت رامنځته شو. له څو کاله نسبي امنیت څخه وروسته، طالبان بېرته منسجم شول او جګړه یې پیل کړه. د جګړو له زیاتوالي سره د خبرو له لارې د روان وضعیت د کنټرول هڅې هم پیل شوې. د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ خبرې اترې د حامد کرزي د دورې پرمهال پیل شوې، دغه خبرې‌اترې تر ډېره د حامد کرزي د استازو او طالبانو ترمنځ په انفرادي ډول وې.

د ۲۰۱۵م کال د جون په میاشت کې د اسلام اباد په مري کې په لومړي ځل د طالبانو د یوه داسې پلاوي سره، چې په سم ډول د طالبانو د ډلې استازیتوب وکړي د افغان حکومت استازو مخامخ خبرې وکړې. ظاهراً هغه مهال طالبان د پاکستان د فشارونو له امله دغو خبرو ته کېناستلي وو؛ ځکه وروسته بیا ډېر ژر د ملا محمد عمر د مړینې له اعلان سره، د خبرو دغه پروسه ودرېده او د افغان حکومت و طالبانو د مخامخ خبرو لړۍ پرې شوه. له دې وروسته د افغان سولې په اړه سیمه‌ییزه او نړیواله ډیپلوماسي فعاله شوه، د افغانستان، پاکستان، امریکا او چین ترمنځ د افغان سولې لپاره څلور اړخیزې ناستې پیل شوې؛ خو له طالبانو سره د خبرو اترو په تړاو یې کومه لاسته راوړنه نه درلودله.

د افغان سولې په اړه د ملي یووالي حکومت تر هڅو پورې امریکا د افغان حکومت په مشرۍ د سولې له بهیر څخه د ملاتړ کوونکي په رول کې وه، امریکا د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ په خبرو اترو کې د منځګړي د رول هڅه کوله؛ خو طالبان بیا د امریکایانو د داسې رول غوښتونکي نه وو، بلکې له امریکا سره یې د قضیې د یوه مهم اړخ په توګه خبرې‌اترې غوښتې. له همدې امله بالاخره امریکا له طالبانو سره په قطر کې د سولې خبرې‌اترې پیل کړې. په دغو خبرو کې د طالبانو دریځ دا و، چې لومړی به له امریکا سره په افغانستان کې د بهرنیانو د حضور د پای ته رسولو په اړه یوې هوکړې ته رسېږي، وروسته به بین‌الافغاني خبرې (د طالبانو اوټولو افغان سیاسي ډلو ترمنځ وي، نه دا چې یوازې د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ وي) پیلوي.

د طالبانو د دریځ مطابق امریکا له دغې ډلې سره د سولې اوږدې خبرې‌اترې وکړې او له نږدې یو نیم کال خبرو اترو وروسته دواړو لوریو د سولې تړون لاسلیک کړ. د دغه تړون له مخې به په ۱۴ میاشتو کې ټول بهرني ځواکونه افغانستان پرېږدي او له دې وروسته به د افغانستان خاوره د امریکا او د امریکا د متحدانو پر ضد نه کارول کېږي.

له امریکا سره د سولې د تړون تر لاسلیک کېدو وروسته تر یوې اوونۍ د جګړو میدانونه ساړه وو او تاوتریخوالی د پام وړ راکم شو. له همدې کبله له افغانانو سره تمې پیدا شوې، چې جګړه ورو ورو په ختمېدو ده، بین‌الافغاني خبرې به پیل او افغانان به یوې پایدارې سولې ته ورسېږي؛ خو د وخت په تېرېدو داسې کوم څه نه ترسترګو کېږي. داسې ښکاري چې طالبان لا هم افغان حکومت، منحیث حکومت نه مني او دا هغه ټکی دی چې د سولې په خبرو کې یې خنډ رامنځه کړی دی.

دغه راز پر افغان امنیتي ځواکونو د طالبانو وروستي خونړي بریدونه او د جګړې پر میدان د دوی د تمرکز زیاتوالی، هم هغه څه دي چې ښیي، طالبان غواړي پر افغان حکومت او نړیوالو باندې فشار راوړي او ځان د جګړې په ډګر کې هم برلاسی ګڼي.

پایله

د نړۍ په ډېرو هېوادونو کې شخړې او جګړې د ښکېلو لوریو ترمنځ یوازې د مخامخ خبرو اترو له لارې حل شوې دي؛ د بېلګې په ډول د ویتنام جګړه د پاریس د سولې تړون په نتیجه کې پای ته ورسېده. تازه بېلګه یې د امریکا او طالبانو ترمنځ مخامخ خبرې یادولی شو، چې په پایله کې یې د سولې تړون لاسلیک شو. دا چې د افغان جګړې د بهرني لوري سره د سولې تړون شوی، نو په اوس مهال کې اړتیا ده چې د بین الافغاني خبرو له لارې د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ د روانې جګړې د پای ته رسېدو لپاره هم حل‌لاره پیدا شي.

طالبانو تر دې دمه د بین‌الافغاني خبرو په برخه کې له سیاسي ډلو سره خبرو ته ډېر اهمیت ورکړی؛ خو که له طالب سره د بین‌الافغاني خبرو په برخه کې افغان حکومت ځای ونه لري، له سیاسي ډلو سره د دوی خبرې که څومره هم مثبتې وي، د جګړې د پای ته رسېدو په مانا نه دي؛ ځکه د روانې جګړې یو مهم لوری د نظام او درې لکه پوځ درلودونکی افغان حکومت دی، چې د طالب پر وړاندې جګړه کوي؛ خو که چېرې په بین‌الافغاني خبرو کې افغان حکومت ښکېل وي، له شک پرته د جګړې او تاوتریخوالي پر کموالي اغېز لرلی شي.

په ټوله کې باید ووایو چې د امریکا وتل یو پړاو دی او دغه پړاو به بالاخره ترسره شي؛ خو پوښتنه داده چې آیا د امریکا په وتلو سره به افغان جګړه پای ته ورسېږي؟ تېرو تجربو او اوسنیو حالاتو ته په کتو سره داسې انګېرل کېږي چې افغان جګړه یوازې د امریکا په وتلو او پاتې کېدو پورې تړاو نه لري، بلکې دلته بحث د افغانانو ترمنځ د روغې او جوړې او د ترهګرۍ د ملاتړو سرچینو د وچولو دی. دغه روغه جوړه په طالب او افغان حکومت پورې اړه لري ځکه د امریکا له وتلو وروسته راتلونکي حالات باید داسې کنټرول شي چې د سولې مسیر و ټاکي. د امریکا له وتلو وروسته تر ټولو مهم بحث د ښکېلو لوریو د ګټو د خوندي کولو پړاو دی او که په دې پړاو کې ښکېل لوري له فکر او رښتینولۍ څخه کار وانخلي د قدرت د تشې له رامنځته کېدو سره به هېواد یو بل بحران ته دننه شي.

## د ماشومانو د خوندیتوب اداره: ۸.۱۲ میلیونه افغان ماشومان جدي بشري مرستو ته اړتیا لري

د ماشومانو د خوندیتوب نړیواله مؤسسه (سېف دې چلډرن) وایي، اوسمهال ۸،۱۲ میلیونه افغان ماشومان جدي بشري مرستو ته اړتیا لري. دا په داسې حال کې ده چې یادې مؤسسې له دې وړاندې بشري مرستو ته د اړمنو افغان ماشومانو شمېر ۵،۲٦ میلیون ښودلی و.

په افغانستان کې د ‹سېف دې چلډرن› مؤسسې ویاندې مریم عطایي ویلي چې د کرونا ویروس خپرېدو د افغان ماشومانو اوسنی ناوړه وضعیت تر پخوا لا زیات خراب او له نور ګواښ سره مخ کړی دی.

هغې زیاته کړې: «داسې کورنۍ شته چې له ګواښ سره مخ دي، په لرې پرتو سیمو کې اوسي او په قرنطین کې خپلو ماشومانو ته ښه او کافي خواړه نه شي ورکولای. دا په دې معنی ده چې دا ماشومان ځورېږي. د



ماشومانو د خوندیتوب مؤسسه له نړیوالې ټولنې غواړي چې سمدستي اقدام وکړي او دې ماشومانو ته لږترلږه سم او کافي خواړه برابر کړي.»

د یادې موسسې مشر میلان دنیچ هم افغانستان ته د بشري مرستو او تجارتي موادو د واردولو او هغو سیمو ته چې بې‌وزله خلک پکې اوسي، د دغو موادو د رسولو پر اړتیا ټینګار وکړ.

دا په داسې حال کې ده چې د ملګرو ملتونو یونیسف اداري په اپرېل میاشت کې ویلي وو چې د کرونا ویروس د مخنیوي لپاره د محدودیتونو د دوام له کبله کورنیو د خپلو عوایدو سرچینې له لاسه ورکړې چې ورسره د خوارځواکۍ ستونزه هم د زیاتېدو په حال کې ده او دا حالت به پر ماشومانو ناوړه اغېز وکړي. په افغانستان کې د یونیسف استازي ابوبکر کامپو نږدې دوې میاشتې مخکې ویلي وو، د ټول هېواد په کچه له پنځو کلونو د ټیټ عمر لرونکو هغو ماشومانو شمېر چې په خوارځواکۍ اخته دي، په ۱۰۰ کې ۱۱ زیات شوی دی.

د نومړي د اټکل له مخې، د دغو ماشومانو شمېر اوسمهال ٦۹۰ زره تنو ته رسېږي. د ملګرو ملتونو د شمېرو له مخې، په ټوله کې شاوخوا ۱۴ میلیونه افغانان عاجلو بشري مرستو ته اړتیا لري.

‹سېف دې چلډرن› په افغانستان کې بشري مرستو ته د اړو ماشومانو د شمېر د زیاتېدو خبرداری داسې مهال ورکوي چې افغان حکومت په دې وروستیو کې د کرونا ویروس د مخنیوي لپاره محدودیتونه د دریو نورو میاشتو لپاره وغځول.

# امریکا د زوال پر لوري

لیکنه: سیدالرحمن سالار

په امریکا کې د توکمپالنې ضد رواني مظاهرې، پر دغه هېواد د کرونا اغېزې او د تاریخ په اوږدو کې د لومړي ځل لپاره د امریکا اقتصادي ځوړتیا، هغه څه دي چې د امریکا د راتلونکې لپاره بدې پایلې درلودلای شي.
دا چې دغه هېواد یو واحد ملت نه لري، بلکې له نورو هېوادونو په ځانګړې توګه انګلستان، اروپا او افریقا څخه ورغلي د مختلفو توکمونو، رنګونو او عقیدو لرونکي کډوال پکې ژوند کوي او د تاریخ په اوږدو کې یې په خپلو کې توکمیز جنجالونه رامنځ ته شوي او خونړۍ جګړې یې کړې، که څه هم په ۱۹٦۴ ز کال کې د لږکیو پر وړاندې د تبعیض له منځه وړلو قانون په تصویبېدو سره دغه جنجالونه څه ناڅه کم شول، خو هېڅکله ختم شوي نه دي.
اوس د مې په ۲۵مه د یوه سپین پوستي پولیس افسر له خوا په بورنوونکي ډول د جورج فلوېډ په نوم د یوه تورپوستي په وژل کېدو او له یادې پېښې وروسته له توکمپالنې ضد مظاهره چیانو سره د پولیسو سخت او تاوتریخجن عمل یوځل بیا نړیوالو ته ثابته کړه چې په امریکا کې د بشري حقونو او توکمیزې برابرۍ موضوع هسې تش شعارونه دي.
د حیرانتیا وړ خبره خو دا ده چې امریکا تل په نورو هېوادونو کې د توکمیزې برابرۍ، بشري حقونو، بیان آزادۍ او... پلمو سره مداخله کړې او په همدې پلمو سره یې پر نورو هېوادونو بندیزونه لګولي او آن پوځي مداخلې یې کړې دي.
په دې لیکنه کې په امریکا کې د توکمپالنې مخینې، په نورو هېوادونو کې د بشري حقونو، عدالت، برابرۍ او ... نومونو د امریکا مداخلو او په دغه هېواد کې د توکمپالنې ضد روانو لاریونونو او د امریکا راتلونکې ته کتنه شوې ده.
د فلوېډ وژل کېدل او د توکمپالنې ضد بې مخینې قهرجن لاریونونه:
هماغه ډول چې مخکې اشاره وشوه، شاوخوا دوې اونۍ وړاندې د مې په ۲۵مه د دوشنبې په ورځ د امریکا په میناپولیس ښار کې د یوه سپین پوستي پولیس افسر له خوا د جورج فلوېډ په نوم تور پوستي له وژل کېدو وروسته د امریکا په یو شمېر لویو ښارونو کې د توکمپالنې پرضد قهرجنې مظاهرې رامنځ ته شوې چې اوس دغه مظاهرې نه یوازې په امریکا، بلکې د دغه هېواد له پولو څخه بهر د برېټانیا، جرمني، سویس، فرانسې او اتریش په شمول یو شمېر نورو هېوادونو په لویو ښارونو کې هم روانې دي.
د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ د لاریونونو په پیل کې په لویو ښارونو کې د ملي ګارډ د ځای پرځای کېدو او والیانو ته د لاریون کوونکو د ځپلو امر وکړ، که څه هم د دغه هېواد د دفاع وزیر مارک ایسپر د ټرمپ له دې غوښتنې سره مخالفت کړی، خو د رسنیو د راپورونو له مخې، پولیسو د مظاهره چیانو خلاف له زور زیاتي څخه کار اخیستی او مظاهره چیان یې وهلي، پر وړاندې یې له اوښکې بهوونکي ګاز، پلاستیکي مرمیو، ټکان ورکوونکو برقي ډنډو او نورو وسایلو څخه کار اخیستی دی.
رسنیو د جون په ٦مه یوه داسې بورنوونکې ویډیو هم خپره کړه چې پولیس یو ۷۵ کلن معترض غورځوي چې په نتیجه کې یې د نوموړي کس له غوږونو څخه وینې بهېږي.
په ټولنیزو رسنیو کې خپره شوې بله ویډیو کې ښکاري چې پولیس یو اعتراض کوونکی راځملوي او په غاړه کې د برق په وسیله ټکانونه ورکوي.
دا په داسې حال کې دي چې امریکا تل د بشري حقونو، بیان آزادۍ، برابرۍ او... شعارونه ورکوي، هغه څه چې خپله یې تر پښو لاندې کوي.
په امریکا کې د توکمپالنې مخینه:
په امریکا کې د توکمپالنې مسئلې مخینه د دغه هېواد رامنځ ته کېدو او هلته د اروپایانو ور کډه کېدو وخت ته ستنېږي.
امریکا ته انګرېز، فرانسوي او اسپانوي سپین پوستانو په خپل ورتګ سره په لومړیو کې ځایي سور پوستو امریکایانو ته د وحشیانو په سترګه وکتل او پر هغوی یې د خپل توکم لوړ ګڼلو ایډیالوژي مطرح کړه او په دې توګه په امریکا کې د توکمپالنې ښکارنده پیل شوه، خو دا پر ځایي امریکایانو او سور پوستانو پورې محدوده نشوه.
کله چې اروپایانو د امریکا وچې ښکېلاک پیل کړ، نو د ۱۵۰۰ تر ۱۸۰۰ میلادي کلونو ترمنځ یې په دې وچه کې د کرکیلې او کانونو په برخه کې د کار لپاره کابو ۱۵ میلیونه افریقایان (تورپوستي) د غلامانو په توګه منتقل کړل.
د امریکا د خپلواکۍ په اعلانېدو او خپلواک دولت په رامنځ ته کېدو سره، توکمپالنه نه یوازې ختمه نه شوه، بلکې په نوي بڼه یې دوام پیدا کړ او وخت ناوخته د سپین پوستو او رنګین پوستو(تور پوستو، ژېړ پوستو او سور پوستو) ترمنځ د ځمکو لاندې کولو په موخه ډېرې خونړۍ جګړې شوې دي.
که څه هم د دغه هېواد د سویل او شمال خلکو ترمنځ د جګړې پای ته رسېدل د میلیونونو غلامانو د آزادېدو لامل شو، خو په امریکایي ټولنه کې توکمپالنه هېڅکله ختمه نه شوه او تور پوستان هماغه شان له خپلو ډېرو مدني حقونو او آن مالکیت حق څخه بې برخې وو او هغوی د مهمو سیاسي چوکیو ترلاسه کولو حق نه درلود. د دویمې نړیوالې جګړې رامنځ ته کېدل او د متحدینو جبهې پرضد مبارزه کې د تور پوستانو پراخ ګډون، د هغوی په زړونو کې دا هیلې رامنځ ته کړې چې ښایي وکولای شي د سپین پوستانو پر وړاندې خپل موقعیت پیدا کړي، خو دا هیلې یې هم بې ګټې وې.
په هغو ایالتونو کې چې پخوا پکې غلامي دود وه، د نژادي ادغام پر وړاندې مقاومت دوام پیدا کړ او له همدې امله د تورپوستانو د آزادۍ غوښتنې غورځنګونو مبارزو په جدي توګه دوام وکړ تر دې چې دغه مبارزې د ۱۹٦۴ میلادي کال مدني حقونو کې د لږکیو پر وړاندې د تبعیض له منځه وړلو قانون د تصویبېدو لامل شوې، خو شواهد د دې ښودنه کوي چې امریکا د بشري کرامت او انساني حقونو په برخه کې له خپلو سترو ادعاوو سره سره، د هغو هېوادونو د نوملړ په سر کې ځای لري چې د توکمپالنې مسئلې پکې دي.
ځینې سروې ګانې ښیې چې له دوو میلیون ډېر افریقایي الاصله امریکایان د رایې ورکولو له محدودیتونو سره مخ دي.
سربېره پر دې، تور پوستي امریکایان د دندو پیدا کولو له محدودیتونو سره مخ دي او په دې هېواد کې د استخدام په برخه کې توکمیز تبعیض په پام کې نیول یو عادي کار دی.
دغه راز مختلفې څېړنې د دې ښودنه کوي چې په امریکا کې د کار او استخدام په برخه کې یوځل بیا د آپارتاید(هغه سیاست چې له مخې یې یو توکم له له بل توکم څخه بېل ساتل کېږي او له کمو امتیازاتو څخه برخمن وي) شتون لري.
د ملګرو ملتونو د عمومي منشي انتونیو ګوترېش په شمول د نړۍ بېلابېلو مشرانو د تور پوستي جورج فلوېډ وژل کېدل او د توکمپالنې ضد مظاهره چیانو سره د امریکایي پولیسو پر چلند سختې نیوکې کړې دي.
د ملګرو ملتونو عمومي منشي، انتونیو ګوترېش د سپین پوستي امریکایي پولیس افسر له خوا د فلوېډ وژل کېدل یو جنایت او وحشي عمل بللی او ادعا یې کړې چې د توکمپالنې په اړه د ملګرو ملتونو دریځ ډېر روښانه دی، دا کار د ملګرو ملتونو له منشور او انساني ارزښتونو څخه سرغړونه ده.
پایله
که تاریخ ته کتنه وشي، نو ټول ستر قدرتونه په ناڅاپي ډول نه دي ټوټه شوي، بلکې داخلي مخالفتونو، اقتصادي او پوځي برخو کې د ناکامیو له امله په تدریجي ډول کمزوري شوي او بالاخره ټوټه شوي دي.
اوس امریکا له یوې خوا د کرونا ویروس له ستونزې او اقتصادي ځوړتیا سره مخ ده، په مقابل کې یې چین چې په اقتصادي ډګر کې د امریکا سیال ګڼل کېږي او ډېری کارپوهان وړاندوینه کوي چې ښایي په نږدې راتلونکې کې پر یو زبرځواک بدل شي، عملاً د کرونا ویروس پر وړاندې بریالی راوتلی او اقتصادي وده یې په چټکۍ سره روانه ده، نو شک نشته چې د امریکا ځای ونیسي او که داسې وشي، نو د امریکا په تاریخ کې به لومړی ځل وي چې دغه هېواد خپل مقام له لاسه ورکوي.
له بلې خوا داسې ښکاري چې په افغانستان، سوریه، عراق، لیبیا او اوکراین او نورو مسئلو کې هم امریکا د خپلو سیالانو پر وړاندې له ناکامۍ سره مخ ده او په سیمه کې د خپل پوځي شتون د ختمېدو په حال کې ده.
له ایران سره د ملګرو ملتونو امنیت شورا( پنځه جمع یو هېوادونو) له اټومي تړون څخه په خپل سر وتل او پر وړاندې یې د چین او روسیې او خپله ایران غبرګونونه او مخالفت.
د اوکراین مسئله او د منځني واټن ویشتونکو توغندیو د منع کېدو پر سر د روسیې او امریکا ترمنځ شوي تړون څخه د امریکا وتل او د روسیې غوسه او د دواړو اختلاف.
او بالاخره دا چې ښایي لومړی ځل وي چې د ملګرو ملتونو عمومي منشي په دومره سخته او تونده لهجه د امریکا د کړنو غندنه کوي، دا د دې معنا لري چې نور امریکا په ملګرو ملتونو کې هم هغه پخوانی نفوذ له لاسه ورکړی، نو دې ټولو ته په پام سره ویلای شوو چې په داسې نازک وخت کې د جورج فلوېډ وژل کېدل او توکمپالنې ضد مظاهرو رامنځ ته کېدل به امریکا ته په ډېره ستره بیه تمام شي او ښایي همدا د دغه هېواد د ټوټه کېدو لپاره یو بنسټ وګڼل شي.

# امریکایي جنرال ته د طالبانو ځواب؛

## چا ته اجازه نه ورکوو چې له افغانستان څخه پر امریکایي ګټو بریدونه وکړي



وروسته له هغې چې امریکایي جنرال کېټ مک کینزي پر طالبانو شک وښود چې لاهم له القاعده شبکې سره اړیکې لري، دغه ډلې یې پر خبرو غبرګون ښودلی دی. مک کینزي ویلي وو چې پر طالبانو باور نه شي کولی او تر اوسه له افغانستان د ټولو ځواکونو د ایستلو شرایط نه دي برابر شوي، خو طالبان وايي، دوی هوکړې ته ژمن دي او په خبره یې چا ته به اجازه ور نه کړي چې له افغانستانه د امریکا پر ګټو او متحدینو برید وکړي. طالبانو پر خواله رسنیو په خپاره کړي مطلب کې ویلي چې هوکړې ته ژمن دي او مقابل لوری دې هم ژمنتیا وښیي.
په دې وروستیو کې له طالبانو سره د هوکړې پر سر د ځینو امریکایي چارواکو غبرونه پورته شوي دي. له دې ډلې ډېری یې نظامیان دي او په دې باور دي چې له افغانستانه د امریکایي ځواکونو وتل به ستره تېروتنه وي.
دوی په ځلونو له ټرمپ غوښتي چې بېړنۍ پرېکړه دې نه کوي. له دې ډلې کسانو یو هم د امریکایي ځواکونو د مرکزي قوماندانۍ قوماندان جنرال کېټ مک کینزي دی.
نوموړي په خپلو څرګندونو کې ویلي وو چې تر اوسه له افغانستانه د ټولو ځواکونو ایستلو ته شرایط نه دي مساعد شوي. د ده په خبره، طالبانو له امریکا سره هوکړه لاسلیک کړې، خو لا هم د القاعده شبکې غړي په افغانستان کې فعالیت کوي او په خبره یې، دغه ډله له طالبانو سره تاریخي او نه پرې کېدونکې اړیکې لري. د کینزي په خبره: ((دا سمه ده چې پر امریکایي ځواکونو بریدونه کم شوي او یا بیخي ختم شوي دي، خو لا هم پر افغان ځواکونو بریدونه کېږي. لا هم جګړې شدیدې دي او طالبان له القاعده شبکې سره اړیکه لري)).
طالبانو پر دې خبرو غبرګون ښودلی او په خبره یې، دوی به اجازه ور نه کړي چې له افغانستانه هېچا ته خطر متوجه شي. دغه ډله وايي، د القاعده شبکې ځینې عرب جنګیالي چې یو وخت په افغانستان کې وو، اوس نشته او د دې ډلې فعالیتونه په افغانستان کې ختم شوي دي. دوی همدا راز وايي چې دوی د سولې هوکړه لاسلیک کړې ده، ورته ژمن دي، نو ځکه به چا ته اجازه ور نه کړي چې له افغانستانه پر امریکایي ګټو او امریکا برید وکړي. دوی له امریکایي لوري هم غوښتي چې پر خپلو ژمنو عمل وکړي او د سولې هوکړه ګام پر ګام عملي کړي.
له دې سره جوخت د افغانستان د ملي امنیت شورا تازه په خپلو څرګندونو کې ویلي چې طالبانو په تېرو دوو اونیو کې د هېواد په ۲۹ ولایتونو کې بریدونه او جګړې کړې دي. د دوی په خبره، په دې بریدونو کې ۸۹ ملکیان وژل شوي او ۱۵۰ نور ټپیان دي. د ملي امنیت شورا ویاند جاوید فیصل ویلي وو چې دوی د ولسمشر غني له لارښوونې سره سم د بندیانو خوشي کولو ته ادامه ورکوي، خو د دې اړتیا هم ده چې تاوتریخوالی کم شي. هغه وايي، طالبان باید دا ثابته کړي چې سولې ته ژمن دي او د جګړو سطحه ټیټوي.
په دې وروستیو کې له افغان حکومت سره جګړې او له امریکا سره د طالبانو هوکړې د ګڼو نړیوالو رسنیو پام ځان ته اړولی دی. همدا پرون هم امریکایي ورځپاڼې واشنګټن ایکزماینر په یوه تحلیل کې ویلي وو چې په افغانستان کې له طالبانو سره د سولې هوکړې ته غیر واقعي هیله مندي د امریکایي وګړو ژوند ته خطر جوړولی شي. سرچینې ویلي وو، طالبان لا هم شدیده جګړه کوي، خو تر څنګ یې د سولې خبرې هم مخ ته بیایي چې دا هر څه د اندېښنې وړ دي او امریکا ته په کار ده چې پر خلیلزاد د باور پر ځای د دایمي سولې لپاره عملي او رښتیني ګامونه اوچت کړي.

# ملګري ملتونه: په نړۍ کې د کارګرو ماشومانو وضعیت د اندېښنې وړ دی، مرسته کوونکې اداري دې جدي اقدامات وکړي


ملګرو ملتونو د کوچنیانو د کار کولو یا کار ته د کوچنیانو د مجبوریت پر ضد د مبارزې په نړیواله ورځ په یوه بیان کې ویلي چې د کرونا ویروس د خپرېدو له کبله د ټولې نړۍ اقتصاد اغېزمن شوی دی. دغه سازمان ویلي چې په نړۍ کې د کارګرو ماشومانو وضعیت د اندېښنې وړ دی او مرسته کوونکې اداري دې په دې برخه کې جدي اقدامات وکړي.
ملګرو ملتونو ویلي چې په داسې وضعیت کوچنیان تر نورو ډېر متضرره دي. د دغه سازمان په وینا، په نړۍ کې اوسمهال ۱۵۲ میلیونه کوچنیان کار کولو ته مجبور دي او په دې کې ۷۲ میلیونه کوچنیان یې سخت او درانه کارونه کوي.
د سرچینې په خبره، د کرونا ویروس د خپرېدو له کبله تر راغلي اقتصادي فشار لاندې به دا کوچنیان مجبور وي چې ډېر وخت او زیات درانه او سخت کارونه وکړي؛ ځکه د ټولو خلکو اقتصاد کمزوری شوی دی.
ملګرو ملتونو دغه راز ویلي چې په نړۍ کې له لسو کوچنیانو څخه لږترلږه یو تن مجبور دی چې د نفقې د ګټلو لپاره کار وکړي.
دغه سازمان کړې چې په وروستیو دوو لسیزو کې د کارګرو کوچنیانو شمېر تقریباً ۹۴ میلیونه کم شوی، خو په وروستیو دوو یا درېیو کلونو کې بیا دا شمېره په سستۍ کمه شوې ده.
ملګري ملتونه وايي چې په افریقا کې له پنځو ماشومانو یو مجبور دی چې کار وکړي او ټول شمېر یې ۷۲ میلیونه دی. دغه سازمان په اسیایي هېوادونو کې هم د کوچنیانو وضعیت په دویمه درجه کې خراب بللی دی.
د ملګرو ملتونو د سازمان په وینا، په نړۍ کې د سختو کارونو ۴۸ سلنه قرباني ماشومان د ۵ او ۱۱ کلونو ترمنځ عمر لري.
د سرچینې په خبره، په دې کې زیات شمېر کوچنیان داسې هم دي چې ډېر ساعتونه کار کولو ته مجبور وي، خو حتی خپله مزودري هم نه شي ترلاسه کولای.
د ملګرو ملتونو دا څرګندونې داسې مهال دي چې تر دې وړاندې هم یاد سازمان په نړۍ کې د کوچنیانو پر وضعیت اندېښنه ښودلې ده. یاد سازمان ویلي چې د بشري مرستو نړیوالې اداري دې په دې برخه کې جدي اقدامات وکړي.

## د کتــاب خبـرې

# د یوویشتمې پېړۍ تجارت

◉ ليکوال: رابرټ کيوساکي
◉ ژباړن: علي‌الله متوکل

### دویمه برخه
### يو کاروبار او اته شتمني جوړوونکې دارايي
### اتم څپرکی




د ملکيت د کاروبار لرلو موخه داده چې هغه د دارايي په توگه وساتې، د گټې لپاره يې ونه پلورې. که ته يو ملکيت په سل زره ډالرو وپېرې او په دوه سوه زره ډالرو يې وپلورې، دا دارايي نه ده، بلکې تا يوازې سل زره ډالره اضافه پانگه ترلاسه کړه. تا دارايي يانې ستا ملکيت د پيسو لپاره له منځه يووړ. دا داسې ده، لکه يو څوک چې غوا وپلوري. زه بيا د غوا تر پلورلو د غوا شيدې پلورل خوښوم. دغه اصلي گټه ده، ځکه له دارايۍ څخه لاس ته راځي. که غوا په گټه وپلورئ، نو خپله دارايي مو و پلورله.

په تنخوا د کار کولو لويه ستونزه هم همدا ده. دنده دارايي نه ده. نه يې په eBay ويبپاڼه کې پلورلای شې. نه يې په کرايه او شراکت چا ته ورکولای شې. ولې بايد د ژوند لسگونه کلونه پر داسې څه تېر کړو چې هغه دارايي نه ده؟ که رښتيا ووايم، نو د بل چا د دارايۍ جوړولو لپاره کار کوې.

تېروتنه مه کوه. که ته دنده کوې، نو يوه دارايي رامنځته کوې. هغه دارايي ستا نه ده، بلکې د هغه چا ده چې ته کار ورته کوې. يانې ستا د مالک يا د هغه د شرکت ده.

ښه دنده لرل موږ ته په ذهن کې راکړل شوي دي؛ خو دنده هېڅ ارزښت نه لري، ارزښت يې بيخي صفر دی. د پيسو گټلو د څلورو لارو په يوه کې هم د تنخوا هومره ماليه نشته ده. ماليه ستا تنخوا کموي. په حقيقت کې ټول چل تا ته جوړ دی. خو بيا هم زيات خلک دې ته چمتو دي چې په E کونج کې پاتې شي، يانې په تنخوا کار وکړي او ماليه ورکړي.

شبکه يي بازارموندنه د توليداتو پلور يا د گټې ترلاسه کول نه دي.

دا ناسمه انگېرنه ده چې خلک شبکه يي بازارموندنه د توليداتو د پلور تجارت گڼي. د توليداتو په پلور کې خالصه گټه لاس ته درځي. که دې کومه ورځ تجارت ودروې، په همغه ورځ گټه هم له منځه ځي.

که په يوه شرکت کې پلورونکی يې، نو ستا دنده په E کونج کې ده او که د ځان لپاره ازاد کار کوې، بيمه، کورونه يا زيورات پلورې، نو ستا دنده په S کونج کې ده. ته په دواړو صورتونو کې دنده لرې او دنده دې د شيانو پلورل دي. که دې کومه ورځ خپل تجارت بس کړ، نو گټه هم لاس ته نه درځي. خو د شبکه يي بازارموندنې په مټ داسې تجارت جوړولای شې چې تا ته دايمي گټه وکړي.

ته بلې دندې ته اړتيا نه لرې، بلکې يوازې ادرس دې بدل کړه او د B کونج يانې د تجارت لور ته راشه.

جان: رابرټه! دا بلکل سمه خبره ده. خلک ډېر وخت فکر کوي چې زيات پلور درلودل د شبکه يي بازارموندنې په کاروبار کې برياليتوب دی. دا کاروبار کله هم د يوه شي پر زيات پلور ولاړ نه دی. که هر څومره ښه پلورونکی شې، بيا هم د ورځې ساعتونه کم دي، د نورو په څېر به فکر کوې چې زه ښه پلورونکی نه يم. د شبکه يي بازارموندنې اصلي مطلب د توليداتو پلور نه، بلکې د يوې شبکې جوړول دي. داسې شبکه چې يو لښکر خلک د يوه ځانگړي توليد يا خدمت د پلور استازي واوسي.

د زياتو توليداتو پلورل تا يا کوم بل کس ته اړين نه دي، بلکې ډېرو داسې خلکو ته اړتيا ده چې د خپل ځان ښه مشتريان وي. ځينو خلکو ته ښه توليدات او خدمات وړاندې کړي، ويې گوماري او دا ورزده کړي چې څنگه د دوی په څېر کار وکړي.

د يوه لوی لښکر خپلواکو استازو د شبکې جوړولو دليل هم همدا دی چې د پيسو گټلو دارايي به ولرې، دې ته غيرفعاله پيسې گټل (Passive income) وايي.

په دیارلسم څپرکې کې به جان وپوښتم چې دا راته روښانه کړي چې شبکه يي بازارموندنه ولې پلور او پلورونکې نه ده. په دې هيله چې ښه پام ورته وکړئ. ځکه دا هغه اړين څه دي چې زيات خلک ورته متوجه نه دي. اوس پر دې ډېر ټينگار کوم چې «په شبکه يي بازارموندنه کې د پيسو گټل اړين نه دي، بلکې هغه دارايي يا ثروت اړين دی چې پيسې پرې گټل کېږي.»

په حقيقت کې شبکه يي بازارموندنه په يوه وخت کې د اتو ثروتونو (Assets) رامنځته کول دي. په راتلونکو څپرکو کې به پر هر ثروت بحث وکړو. **دوام لري...**

# رابعه بلخي خصوصي پوهنتون

◀ حميدالله حميدي




رابعه بلخي خصوصي پوهنتون خپلې اکاډميکې چارې له ۱۳۹۱ لمريز کال را په دېخوا د لوړو زده کړو وزارت په چوکاټ او دغه راز د هغه وخت د آيسا په اداره کې تر ثبت او راجستر وروسته پيل کړې دي. دغه پوهنتون د لوړو زده کړو د يوې موسسې په توگه په لومړي سر کې څلور پوهنځي (حقوق او سياسي علوم، اقتصاد، انجنيري او کمپيوټر ساينس) درلودل. د دغه پوهنتون علمي او تدريسي مرستيال محمد ظاهر زارع وايي، د هغو شرايطو او معيارونو تر پوره کولو وروسته چې لوړو زده کړو وزارت ټاکلي دي، دغه موسسه وتوانېده چې په ۱۳۹۴ لمريز کال کې پوهنتون ته ارتقا وکړي.

رابعه بلخي پوهنتون اوسمهال شپږ پوهنځي لري، چې پر يادو څلورو پوهنځيو يې عالي قابله گي او فارمسي پوهنځي هم ور زيات شوي او په ټولو پوهنځيو کې يې اوسمهال محصلين پر لوړو زده کړو بوخت دي.

د دغه پوهنتون د حقوقو او سياسي علومو پوهنځی دوه ديپارټمنتونه (قضا او څارنوالي)، اقتصاد پوهنځی يې هم دوه ديپارټمنتونه (اقتصاد او سوداگريز مديريت)، په انجنيري پوهنځي کې( برېښنا او سېول) ديپارټمنتونه، په کمپيوټرساينس پوهنځي کې (ای ټي او سافټوير) ديپارټمنتونه فعال دي او تر څنگ يې په عالي قابلگۍ او فارمسۍ کې تر اوسه پورې په عمومي ډول محصلين لوړې زده کړې کوي. زارع وايي چې له عالي قابلگۍ او عالي فارمسۍ پرته له نورو پوهنځيو يې تر اوسه څلور دورې محصلين فارغ کړي او ټولنې ته يې د خدمت په موخه وړاندې کړي دي. دی وايي، ډېری فارغ شوي محصلين يې په مرکز کابل او د هېواد په نورو ولايتونو کې په دولتي او غير دولتي ادارو کې په کار بوخت دي.

په رابعه بلخي خصوصي پوهنتون کې اوسمهال پنځه زره محصلين په بېلابېلو پوهنځيو کې پر لوړو زده کړو بوخت دي، چې ٦۰ سلنه يې نارينه او پاتې ۴۰ سلنه يې ښځينه محصلين دي. لکه څرنگه مو چې مخکې وويل، د دغه پوهنتون له څلورو لومړنيو پوهنځيو څخه تر اوسه د درې زرو په شاوخوا کې محصلين په څلورو دورو کې فارغ شوي، چې پنځمه دوره يې سږ کال فارغېږي. محمد ظاهر زارع وايي، چې د نويو محصلينو د جذب لپاره کوم ځانگړی ميکانېزم نه لري، خو دغه څه تر ډېره د هېواد په عمومي اوضاع او د خلکو په اقتصادي وضعيت پورې تړلې خبره ده. له دې سره سره، دوی په کال کې د پنځو سوو په شاوخوا کې نوي محصلين جذبوي. دغه پوهنتون ته د ورځې په دوو وختونو کې محصلين د زده کړو لپاره ورځي چې د سهار له اتو د غرمې تر دوولسو او بيا له غرمې وروسته تر ماښام پورې پکې محصلينو ته تدريس کېږي.

د رابعه بلخي پوهنتون اداره په بېلابېلو کټگوريو کې د محصلينو لپاره تخفيف لري. د دغه پوهنتون د علمي او تدريسي چارو مرستيال محمدظاهر زارع وايي، چې د شهيدانو د ورثه وو لپاره ځانگړی تخفيف لري؛ هغه که د نظامي برخې دي او که د ملکي. دی وايي، له همدې ډلې يې تازه ۱۰۰ تنه محصلين د يوه ځانگړي تخفيف له مخې د لوړو زده کړو لپاره په پوهنتون کې شامل کړي دي. دغه راز د عمومي اول نمره گانو او هغو کسانو لپاره چې له يوې کورنۍ څخه دوه يا درې تنه په ياد پوهنتون کې د زده کړو هوډ ولري، ځانگړی تخفيف ورکوي.

زارع وايي، چې اړتيا ته په کتو يې په ټولو پوهنځيو کې د لوړې تحصيلي کچې، ښې تجربې درلودونکي او وړ استادان پر دندو گومارلي دي. دی وايي، دا چې په خصوصي پوهنتونونو کې په علمي برخه کې خلکو ته د خدمت ترڅنگ له نورو خصوصي پوهنتونونو سره د سيالۍ مسئله هم مطرح ده، نو دوی هڅه کوي داسې استادان د تدريس لپاره غوره کړي چې هم د محصلينو په خوښه وي، وکولی شي چې هغوی ته ښه تدريس وکړي او تر څنگ يې په علمي برخه کې له نورو خصوصي پوهنتونونو سره دوی پرې سيالي وکړي او په دې ډگر کې مخ پر وړاندې لاړ شي.

محمد ظاهر زارع وايي، چې پوهنتون يې مجهز کتابتون او د مطالعې ځای لري، چې لږ تر لږه ۲۵ زره ټوکه بېلابېل کتابونه يې په سافټ او هارډ ډول د خپلو محصلينو او استادانو په واک کې ورکړي دي، چې دوی کولای شي وخت ناوخته له دغو کتابونو څخه د خپلې مطالعې او څېړنې لپاره گټه واخلي. زارع وايي، چې محصلين او استادان يې کولای شي چې په مجازي ډول هم د دوی کتابتون ته لاسرسی ولري او خپلې ستونزې حل کړي.

که څه هم چې رابعه بلخي پوهنتون تر اوسه له کوم بهرني پوهنتون سره د علمي اړيکو کومه هوکړه نه لري، خو زارع وايي، چې په دې برخه کې يې هڅې پيل کړې او په نږدې راتلونکي کې به په يو شمېر بهرنيو هېوادونو کې له ځينو پوهنتونونو سره د علمي اړيکو هوکړې لاسليک کړي، د هغوی له تجربو به گټه واخلي او خپل استادان او محصلين به د لا نورو لوړو زده کړو او تجربو تر لاسه کولو او ورتيا لوړولو لپاره دغه پوهنتونونو ته ور واستوي. دی وايي، په کور دننه له ډېری دولتي او خصوصي پوهنتونونو سره علمي اړيکې او هوکړې لري او وخت ناوخته ورسره خپلې ستونزې او تجربې شريکوي او تر څنگ يې د هغوی له تجربو گټه اخلي او د ستونزو په حل کې ور سره مرسته کوي.

د رابعه بلخي پوهنتون اداره وايي، چې دوی تر اوسه خپلو فارغ شويو محصلينو ته هغه ديپلومونه نه دي ورکړي چې د لوړو زده کړو وزارت لخوا ورکول کېږي، خو هغه تصديق پاڼې يې ورکړې چې د محصل فراغت تاييدوي او محصلين کولای شي چې په دې تصديق پاڼه باندې دنده واخلي او يا په کور د ننه او بهر کې پرې نورې لوړې زده کړې وکړي او د ماسترۍ پروگرام تعقيب کړي. زارع وايي، تر اوسه دوی ته د ديپلومونو د وېش د لړۍ وار نه دی رسېدلی او لوړو زده کړو وزارت لومړی له هغه پوهنتونونو د ديپلومونو د وېش لړۍ پيل کړې چې له نورو يې مخکې د فعاليت جوازونه اخيستي دي. دی وايي چې دوی هم د فارغ شويو محصلينو د فارغت کتاب ور استولی چې په خپل وار به دوی ته هم دولتي ديپلومونه ورکړل شي. محمد ظاهر زارع وايي، چې د محصلينو لپاره يې تر خپلې وسې پورې هغه توکي او امکانات برابر کړي، چې يو پوهنتون يې بايد ولري.

د رابعه بلخي پوهنتون د علمي چارو مرستيال وايي، چې د پوهنتون لپاره يې پنځه کلن ستراتېژيک پلان چمتو کړی او تاييد شوی هم دی چې ټولې برخې لکه، د کادري برخې پياوړي کول، د علمي هوکړو لاسليکول، د نويو ځانگو جوړول، د نويو پوهنځيو تاسيس، د ماسترۍ پروگرام پيلول او نور د پرمختگ هر اړخيز مسايل پکې شامل دي چې يو پر بل پسې به عملي کېږي.

نوموړی وايي، چې له دې وړاندې د لوړو زده کړو وزارت خصوصي پوهنتونونو ته ډېره پاملرنه نه کوله او همدا وزارت و چې د دولتي او خصوصي پوهنتونونو د محصلينو تر منځ يې د توپير خبره مطرح کوله، خو په خبره يې، له نېکه مرغه له دريو کلونو را په دېخوا د وزارت له لوري دغه ستونزه حل شوې او اوس د دولتي او خصوصي پوهنتونونو د محصلينو ترمنځ کوم توپير نه ليدل کېږي او لوړو زده کړو وزارت پر خصوصي پوهنتونونو هم خپل څار زيات کړی چې دوی يې هرکلی کوي او د دغه څه د دوام غوښتنه کوي، څو پر خصوصي پوهنتونونو د خلک باور نور هم زيات شي. دوی په ټوله کې اوسمهال د لوړو زده کړو وزارت له کار او څار څخه راضي دي.

د ياد پوهنتون اداره تر اوسه له کومې جدي ستونزې سره مخ نه ده، خو وايي چې په ټوله کې د افغانستان امنيتي او اقتصادي وضعيت د ډاډ وړ نه دی چې دغه څه نه يوازې د زده کړو په برخه کې، بلکې په عمومي کچه د پرمختگ په مخ کې يو خنډ کېدای شي. خو د افغانستان د خصوصي پوهنتونونو اتحاديه له لوړو زده کړو وزارت څخه غواړي چې خصوصي پوهنتونونو ته ځانگړې پاملرنه وکړي، د دايمي ځايونو امکانات ورته برابره کړي او له ماليې وزارت څخه وغواړي چې پر خصوصي پوهنتونونو ماليه کمه کړي، څو پر خپلو پښو ودرېږي.

اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷,۵۵ |
| € | ۸۵ |
| Rp. | ٤۷۰ |
| ₹ | ۹۸۰ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۹٤ |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زیږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

همیانی

# درمان بوی بد زیر بغل؛ علت و راه‌های پیشگیری از آن

**ترجمه: امین همتی**

بوی بد زیر بغل مشکل ناخوشایندی است. هرچند بیشتر افراد در برهه‌های زمانی مختلف با این مشکل سروکار داشته‌اند، باز هم باعث خجالت زدگی و کاهش اعتماد به نفس می‌شود. در ادامه مطلب حاضر، اطلاعات بیشتری درباره علت و عوامل محرک این معضل در اختیارتان خواهیم گذاشت، سپس شما را با راهکارهایی کاربردی برای درمان بوی بد زیر بغل و پیشگیری از آن آشنا خواهیم کرد. همراه ما باشید.

علت بوی بد زیر بغل چیست؟

عرق کردن یکی از نیازهای ضروری بدن برای خنک نگه‌داشتن خود است. غده عرقی که سرتاسر بدن انسان را پوشانده‌اند، عرق‌کردن را ممکن می کنند .

غده اصلی عرق در بدن، اکرین (eccrine) و آپوکرین (apocrine) نام دارند.

غده اکرین در بیشتر نقاط بدن یافت می‌شوند و مستقیما بر روی سطح پوست باز می‌شوند. غده آپوکرین، برخلاف غدد اکرین، بیشتر در نقاطی از بدن یافت می‌شوند که در آنها تعداد زیادی فولیکول مو وجود دارد؛ نقاطی مثل زیر بغل و کشاله ران. ترشح غدد آپوکرین به‌جای آنکه مستقیما در سطح پوست آزاد شود، ابتدا وارد فولیکول مو می‌شود و ازطریق آن، به سطح پوست راه پیدا می کند.

وقتی دمای بدن بالا می‌رود، ترشحات غدد اکرین آزاد می‌شود و به‌این‌صورت، دمای بدن تنظیم می‌شود (خنک‌شدن بدن). این نوع از عرق معمولا بویی ندارد. زمانی این نوع عرق بودار می‌شود که باکتریاهای روی سطح پوست شروع به تجزیه‌کردن آن کنند؛ البته مصرف برخی مواد خوراکی و نیز برخی از انواع داروها می‌تواند بوی نامطبوعی به این نوع عرق بدهد.

غده آپوکرین در حالت کلی تحت فشار و استرس شروع به ترشح مایعی بی‌بو می‌کنند. ترشحات آزادشده از این غده، وقتی با باکتریاهای سطح پوست تماس پیدا می‌کنند، بوی ناخوشایندتری نسبت به غدد اکرین تولید می‌کنند. نکته دیگر آنکه غده آپوکرین از سن بلوغ به بعد شروع به فعالیت می‌کنند؛ به همین خاطر است که معمولا تا پیش از این دوران، مشکلی از بابت بوی بد عرق زیر بغل و نقاط دیگر نداریم.

اینکه عرق بعضا بوی بدی بدهد کاملا طبیعی است، اما بعضی‌ها هم بیشتر از حد معمول عرق می‌کنند. به این مشکل، هیپرهیدروز (با تلفظ دقیق‌تر هایپرهیدروزیس/ Hyperhidrosis) می‌گویند. هیپرهیدروز در بعضی موارد، علت بوی زیر بغل است. مبتلایان به این مشکل، بیش از حد عرق می‌کنند، به‌ویژه در نقاطی مثل پاها، زیر بغل و دست‌ها (علت عرق کردن کف دست).

راهکارها و توصیه‌ها برای درمان بوی بد زیر بغل

راهکار مناسب برای درمان بوی زیر بغل بسته به عواملی چون شدت تعریق و علت آن می‌تواند متفاوت باشد.

ریشهٔ بوی بد زیر بغل در برخی موارد، رعایت‌نکردن اصولِ مسائل صحی و یا استفاده از محصولاَت صحی نامناسب است. در برخی موارد هم بوی نامطبوع عرق ریشه در ابتلا به اختلال یا بیماری دیگری دارد. در چنین شرایطی، تنها راه درمان قطعی بوی بد زیر بغل، پی‌بردن به آن مشکل جسمی و برطرف‌کردنش خواهد بود.

چند راهکار رایج برای درمان بوی بد زیر بغل وجود دارد که در ادامه معرفی‌شان می‌کنیم. دو روش اول رایج‌ترند، ولی راهکارها و توصیه‌های بعدی هم در درمان بوی بد زیر بغل و کنترل آن نقش مؤثری دارند.

۱. استفاده از داروهای ضدتعریق و دئودورانت برای درمان بوی بد زیر بغل

استفاده از داروهای ضدتعریق (که بدون نسخه دردسترس هستند) و یا دئودورانت (یا ترکیبی از این دو)، طی روندی روزانه و پس از حمام‌کردن، یکی از راهکارهای مناسب و رایج برای درمان بوی بد زیر بغل است. گاهی لازم است انواع داروها و برندها و انواع مختلف دئودورانت‌ها را استفاده کنید تا درنهایت، محصول مناسب خود را پیدا کنید.

داروهای ضدتعریق روزنه‌هایی را که باعث آزادشدن عرق در سطح پوست می‌شوند، به‌طور موقت مسدود می‌کنند و باعث می‌شوند کمتر عرق کنید؛ به‌دنبال آن بوی بد عرق هم کمتر می‌شود.

از سوی دیگر، دئودورانت نقشی در کم‌شدن عرق آزادشده ندارد، اما بوی بد عرق را کمتر می‌کند. دئودورانت‌ها را معمولا با الکل درست می‌کنند و تماس آنها با سطح پوست، به اسیدی‌شدن پوست منجر می‌شود. این فرایند جلوی شکل‌گیری و رشد باکتری‌اها را می‌گیرد. همان‌طور که گفتیم، باکتری‌ها علت اصلی بوی بد عرق هستند.

۲. استفاده از بوتاکس برای درمان بوی بد زیر بغل

بوتاکس را معمولا با کارایی آن برای رفع چین و چروک پوست و جوان سازی می‌شناسیم، اما بوتاکس کاربردهای دیگری هم دارد. یکی از این کاربردها، درمان بوی بد زیر بغل است. تزریق بوتاکس به غدد عرق، هم در کاهش عرق آزادشده در سطح پوست نقش دارد و هم به برطرف‌کردن بوی بد آن هم کمک می‌کند. تزریق بوتاکس راهکار درمانی رایجی برای مبتلایان به هیپرهیدروز است.

۳. حمام روزانه و رعایت مناسب اصول بهداشتی

پیش‌تر هم گفته شد که علت بوی بد زیر بغل تماس آن با باکتریاهای موجود بر روی سطح پوست است. با حمام‌کردن به‌صورت روزانه، می‌توانید باکتری‌های موجود بر روی سطح پوست را از بین ببرید و از تماس آنها با عرق جلوگیری کنید. هنگام حمام‌کردن بهتر است به تمیزکردن نقاطی مثل زیر بغل (یا نقاط دیگری که احساس می‌کنید منبع اصلی بوی بد عرق هستند) بیشتر توجه کنید.

۴. استفاده از صابون ضدباکتریا برای درمان بوی بد زیر بغل

استفاده از صابون ضدباکتری هم راهکار مناسب دیگری برای از بین‌بردن باکتری‌های روی سطح پوست و برطرف‌کردن بوی بد عرق است. روی بسته‌بندی صابونی که می‌خرید به‌دنبال نوشتهٔ «ضدباکتریا» باشید.

۵. خشک‌کردن کامل بدن پس از حمام

بعد از حمام‌کردن، بدن را کامل با حوله خشک کنید (به‌ویژه نقاطی را که زیاد عرق می‌کنند). وقتی بدن خشک باشد، احتمال پدیدارشدن و رشد باکتری‌ها بر روی سطح پوست بسیار کمتر می‌شود.

٦. تمیز نگه‌داشتن لباس‌ها

وقتی زیاد عرق می‌کنید، لباس‌هایتان را زودبه‌زود عوض کنید. لباس‌های تمیز بوی بد عرق را کمتر می‌کنند.

۷. خودداری از مصرف برخی خوراکی‌ها و نوشیدنی‌ها برای درمان بوی بد زیر بغل

خوراکی‌ها و نوشیدنی‌هایی که مصرف می‌کنید می‌توانند بوی عرق را عوض کنند. فلفل تند، غذاهای پرادویه و خوراکی‌های دیگری که باعث می‌شوند بیشتر عرق کنید، معمولا بوی آن را هم بدتر می‌کنند. همچنین بوی تند خوراکی‌هایی مثل سیر یا پیاز می‌تواند به عرق آزادشده راه پیدا کند و بوی آن را بدتر کند. نوشیدنی‌های الکولی و نوشیدنی‌های کافین‌دار هم باعث می‌شوند بیشتر عرق کنید. تا می‌توانید، از مصرف این خوراکی‌ها و نوشیدنی‌ها خودداری کنید.

راهکارهای مناسب برای پیشگیری از بوی بد زیر بغل

با رعایت این نکات و توصیه‌ها می‌توانید از همان ابتدا تا حدود زیادی بوی بد زیر بغل و نقاط دیگر را کنترل کنید و دیگر نیازی به برطرف‌کردن یا درمان آن نداشته باشید:

۱. حمام‌کردن روزانه با صابون ضدباکتریا

حمام‌کردن روزانه با صابون ضدباکتریا (که در بخش قبل هم به آن اشاره شد)، برای پیشگیری از بوی بد زیر بغل هم کاربرد دارد. این کار را به‌ویژه باید بعد از انجام فعالیت‌های سنگین جسمانی مثل ورزش کردن در دستور کار قرار دهید. به‌این‌شکل، از شر باکتریاهای ایجادکنندهٔ بوی بد عرق خلاص خواهید شد.

۲. پوشیدن لباس‌های آزاد و نخی

راهکار مناسب دیگر این است که تا جای ممکن، لباس‌های آزاد و نخی بپوشید، به‌ویژه اگر زیاد عرق می‌کنید؛ به‌این‌صورت، هوا در زیر لباس، بیشتر جریان پیدا می‌کند و بدن خنک می‌ماند؛ درنتیجه، کمتر عرق می‌کنید.

۳. اصلاح‌کردن موهای زائد زیر بغل

براساس تحقیقی در سال ۲۰۱٦، اصلاح‌کردن موهای زائد زیر بغل هم می‌تواند راهکار مناسب دیگری برای پیشگیری از بوی بد زیر بغل باشد. تمیزکردن زیر بغل با صابون، وقتی موی زائدی در این ناحیه نداشته باشید، بهتر و مؤثرتر خواهد بود؛ به همین خاطر است که اصلاح‌کردن زیر بغل به کنترل و پیشگیری از بوی بد عرق کمک می‌کند.

۴. کنترل استرس و کاهش اضطراب

آخرین راهکار مهمی که برای پیشگیری از بوی بد زیر بغل معرفی می‌کنیم، استفاده از تکنیک‌های کنترل استرس و کاهش اضطراب است. پیش‌تر هم گفتیم که غدد عرق (آپوکرین)، وقتی استرس دارید، شروع به آزادکردن ترشحات خود می‌کنند؛ بنابراین کاهش استرس و کنترل آن باعث می‌شود کمتر عرق کنید.

چه زمانی مراجعه به داکتر ضروری می شو د ؟

اگر مدت‌هاست از راهکارهای مختلف برای درمان بوی بد زیر بغل و کنترل آن استفاده می‌کنید و هیچ‌کدام اثربخش نبوده‌اند، احتمالا مشکل یا بیماری دیگری دارید؛ پس وقت آن است که به داکتر متخصص مراجعه کنید. او با تشخیص دقیق علت بوی بد، درمان اثرگذارتری پیشنهاد خواهد داد.

## ملي امنیت شورا: په تېرو دوو اونیو کې ۲۳۹ ملکیانو ته مرگ ژوبله اوښتې ده

ملي امنیت شورا په افغانستان کې د تاوتریخوالي په زیاتېدو اندېښنه ښودلې او ویلي دي چې یوازې په تېرو دوو اونیو کې د طالبانو په بریدونو کې ۸۹ ملکیان وژل شوي دي.

د دې شورا ویاند تېره ورځ خبریالانو ته ویلي چې په دغو بریدونو کې ۱۵۰ نور ملکي افغانان ټپیان شوي هم دي.

د ملي امنیت د شورا د ویاند د ادعا له مخې، ملکیانو ته دا شمیر تلفات د سړک د غاړې د ماینونو په چاودنو او د طالبانو په مخامخ جگړو کې اوښتي دي.

فیصل ویلي چې ملکي افغانانو ته په ۲۹ ولایتونو کې مرگ ژوبله اوښتې چې په وینا یې، د نورو ولایتونو په پرتله په کندهار، کابل او سرپل کې تلفات زیات وو.



د ملي امنیت شورا ویاند زیاته کړې: «ملکي تلفات په داسې حال کې پېښ شوي چې د تېر په پرتله په افغانستان کې د سولې د ټینگېدو لپاره هڅې زیاتې شوې دي او د موافقې له مخې باید مسلمان وژنه او افغان وژنه پای ته ورسیږي».

په ورته وخت کې طالبانو د ملکي مرگ ژوبلې په اړه د افغانستان د ملي امنیت شورا دغه راپور رد کړی او هغه یې پروپاگند بللی دی.

دا په داسې حال کې ده چې د افغانستان لپاره د ملگرو ملتونو د مرستندویه پلاوي یا یوناما د ۲۰۲۰ میلادي کال د لومړیو دریو میاشتو په راپور کې د لومړیو دریو میاشتو د ملکي تلفاتو د ۵۵ سلنه مسوولیت پر طالبانو اچول شوی او د ۳۲ سلنه مسوولیت د افغان حکومت پر پلوي ځواکونو اچول شوی دی.

د ملي امنیت شورا د ملکي تلفاتو په اړه دا ځرگندونې په داسې حال کې کړې چې ورمه ورځ د جمعې د لمانځه پر مهال د کابل د شېرشاه سوري په جومات کې د ماین د چاودنې له امله د دغه جومات امام او خطیب مولوي عزیزالله مفلح د درې نورو لمونځ کوونکو سره ووژل شو او نهه تنه نور ټپیان شول.

مسیر ورځپانه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**گرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایگل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

# Maseer

New Vision, New Journey

Daily








یکشنبه د ۱۳۹۹ د غبرګولي ۲۵مه | د ۲۰۲۰ د جون ۱۴مه | ۵۴۹مه ګڼه

www.Maseerdaily.af  twitter/MaseerDaily  Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۸ | ۳۱ | ۳٤ | ۲۹ | ۳۵ | ۲۹ |
| ۱۳ | ۱٤ | ۱۷ | ۱۷ | ۲۲ | ۱۸ |

شرعي وختونه: سهار ۰۲:۵۹ | لمر ختل ۰٤:٤۲ | ماسپښین ۱۱:۵۲ | مازیګر ۰۳:۳۹ | ماښام ۰۷:۰۲ | ماخوستن ۰۸:٤۲

## نړۍ



### ملګري ملتونه: په نړۍ کې د کارګرو ماشومانو وضعیت د اندېښنې وړ دی، مرسته کوونکې اداري دې جدي اقدامات وکړي

۳

## پر امریکا سربېره، په نوره نړۍ کې لاهم د تورپوستو سره د تبعیض چلند پر وړاندې لاریونونه دوام لري





په امریکا کې د پولیسو د تاوتریخوالي او د توکمیز توپیر پر ضد له روانو لاریونونو څخه پر ملاتړ په پاریس او لندن کې پراخ لاریونونه شوي دي. د راپورونو له مخې، د پاریس پولیسو له همدې کبله ټول رسټورانټونه، دوکانونه او موزیمونه چې تردې مخکې د فعالیت اجازه ورکړ شوې وه، بېرته تړلي دي. راپورونه وایي چې دا په امریکا کې د (تورانو ژوند ارزښت لري) په نوم له پیل شوي حرکت سره د فرانسې د خلکو د ملاتړ تر ټولو لوی لاریون دی. دا په داسې حال کې ده چې په امریکا کې له تورپوستو سره د توپیر او د پولیسو د زور زیاتي پر ضد دې حرکت تر هغه وروسته زور واخیست چې د جورج فلویډ په نوم یو تور پوستی امریکایی د یوه سپین بوستي پولیس د تاوتریخوالي له کبله مړ شو. جورج فلویډ د مې په ۲۵مه یوه سپین پوستي پولیس چې وروسته له کاره وایستل شو، نیولی و او پر غاړه یې زنګون ور ایښی و. له دې پېښې په اخیستل شوې ویډیو کې چې پر انټرنېټ خپره شوه، لیدل کېږي چې ۴٦ کلن فلویډ په مکرر ډول له پولیس څخه غواړي چې پښه یې له غاړې لرې کړي او ورته وایي چې ساه یې بنده شوې ده. فلویډ وروسته د ساه بندۍ له کبله په روغتون کې مړ شو. له دې پېښې وروسته په امریکا او نوره نړۍ کې پراخ لاریونونه روان دي چې په امریکا کې پر تاوتریخوالي هم اوښتي دي.

## په نړۍ د کرونا ویروس له کبله د مړو شمېر له ۴۳۰ زره واوښت

د تازه شمېرو له مخې، په ټوله نړۍ کې د کرونا ویروس د مثبتو پېښو شمېر ۷.۸۱ میلیونو کسانو ته رسېدلی دی. دغه راز د یاد ویروس له کبله ۴۳۰ زره او ۱۸۳ کسان مړه شوي او له ځلورو میلیونو زیات بېرته رغېدلي دي. د دغو شمېره پر اساس، امریکا لاهم د دغه ویروس د زیاتو قربانیانو او مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. په دغه هېواد کې د کرونا ویروس مثبتې پېښې ۲.۱۳ میلیونه او ۲۳۴ او د مړو شمېر یې ۱۱۷ زره او ۱۴۱ ته رسېدلی دی. له امریکا وروسته برازیل د ۸۳۱ زره او ۶۴ مثبتو پېښو له کبله دویم، روسیه د ۵۲۰ زره او ۱۲۹ مثبتو پېښو په درلودو سره دریېم، هند د ۳۲۱ زره او ۴۰٦ مثبتو پېښو له اړخه څلورم او برېتانیا د ۲۹۴ زره او ۳۷۵ مثبتو پېښو له کبله پنځم، د نړۍ هغه هېوادونه دي چې د یاد ویروس ډېرې پېښې پکې ثبت شوې دي.
دغه راز اسپانیا، ایټالیا، پیرو، جرمني او ایران په ترتیب سره، شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هېوادونه دي چې د یاد ویروس له کبله ډېر ځپل شوي دي.


## میک: به علت مداخله حکومت پخش دو گزارش مهم فساد در ارگ با تأخیر روبه‌رو شده‌است



میوند روحانی رئیس دارالانشاء کمیتهٔ «مشترک نظارت و ارزیابی مبارزه با فساد اداری (میک)» می‌گوید که به علت‌های گوناگون از پنج ماه بدینسو پخش دو گزارش مهم دربارهٔ فساد و آسیب‌پذیری‌ها در وزارت مالیه و ادارهٔ تدارکات ملی در ریاست‌جمهوری با تأخیر روبه‌روشده‌است. روحانی، می‌افزاید که در این پنج ماه بارها برای بحث دربارهٔ این گزارش‌ها در کمیتهٔ حاکمیت قانون از ریاست‌جمهوری و شورای حاکمیت قانون درخواست کرده‌است، اما تاکنون این کار نشده‌است. روحانی گفت: «به اساس تاکیدهای مکرر به ریاست‌جمهوری و شورای حاکمیت قانون داشتیم، برای ما وعده شد که درهفتهٔ جاری ویا هفته‌های آینده روی این گزارش‌ها بحث خواهند شد.» دیده‌بان شفافیت، تأخیر در پخش گزارش‌های کمیتهٔ نظارت و ارزیابی مبارزه با فساد اداری را به نبود ارادهٔ جدی حکومت برای مبارزه در برابر فساد پیوند می‌دهد.
سید اکرام افضلی، رئیس دیده‌بان شفافیت افغانستان گفت: «جلوگیری از نشر گزارش کمیتهٔ نظارت و ارزیابی یک مداخله آشکار حکومت در اداره‌های مستقل است و این نشان دهندهٔ نبود ارادهٔ جدی حکومت در مبارزه با فساد اداری است.» از سویی هم، یک نقل از دستور رئیس‌جمهور که به طلوع‌نیوزرسیده‌است نشان می‌دهد که الهام عمر هوتکی، هنگامی که سرپرست ادارهٔ امور نیز بود، همزمان با نهایی شدن گزارش ادارهٔ نظارت و ارزیابی مبارزه با فساد اداری دربارهٔ تدارکات عامه، رئیس دارالانشاء کمیتهٔ نظارت و ارزیابی را به‌حیث رئیس ادارهٔ گمرک‌های کشور پیشنهاد کرده‌است و رئیس‌جمهور این پیشنهاد را منظور کرده‌است. اما، رئیس کمیتهٔ نظارت و ارزیابی می‌گوید که او از این پیشنهاد خبر نداشته‌است.

## ژوند

## د ماشوم مسوولیت لومړی له کوره پیلېږي



د ماشومانو مسوولیت لومړی له خپل کوره پیلېږي. کله چې ماشوم داسې وروزل شي چې په خپله کورنۍ کې خپل کار او مسوولیت پر خپل وخت او مناسب ډول ترسره کړي، نو هغه ده چې بیا په ټولنه کې هم خپل مسوولیت په سم او مناسب ډول ترسره کولای شي. له نن څخه نیږدې ۵۰۰ کاله مخکې دغه څه د ماشومانو په برخه کې پیل شوي دي، چې ماشومان لومړی باید د کار زده کول په خپله کورنۍ کې زده کړي، چې په اسیایي او افریقایي هېوادونو کې اوس هم دغه څه د یوه دود په توګه پاتې شوي دي. دا ځکه چې د دغو هېوادونو په لرو پرتو سیمو کې ډېری خلک پر کرنه او مالدارۍ بوخت دي، نو له هماغه کوچنيوالي څخه ماشومان له خپلو پلرونو سره د کور او یا هم د ځمکو په کارونو کې پر کار بوخت وي. په ډېرو کورنیو کې پر ماشومانو باندې د هغوی له وس سره سم کارونه کول، د یوه سنت په ډول پاتې شوي دي.

## ویټامین (A) او د سترګو لپاره یې ګټې!




د روغتیا مشهوره مجله لیکي چې ویټامین (اې) له دوو لارو ترلاسه کولی شی، لومړۍ سرچینه یې د هغو حیواناتو ینه (جګر) دی چې غوښه یې حلاله وي او دویم په هغو شنو بوټو کې چې کاروتین ولري؛ ځکه همدا کاروتین د ویټامین (اې) د جوړېدو لامل ګرځي. کاروتین لرونکي بوټي ډېری یې ژېړ، نارنجي او ډېر کم یې شین رنګ لري. لوټین او زیکسانتین هم د سترګو د سلامتیا لپاره ګټور تمامېږي، چې په زیاته کچه په پاڼه لرونکو سبزیو لکه (پالک) کې پیدا کېږي. دغه راز دا دوې مادې په کمه کچه په هغو مېوو او سبزیو کې هم تر سترګو کېږي، چې شین ته مایل رنګ ولري. ویټامین (سي) چې تر ټولو ښه انټي اکسیډان دی، د دې شبکې لپاره ګټور ثابت شوی چې د سترګو له سلامتیا سره مرسته کوي. هغه کسان چې سګرېټ او یا الکول کاروي، په بدن کې یې د ویټامین سي کچه ورځ تر بلې کمېږي چې په پایله کې یې د سترګو شاوخوا ګونځې پیدا کوي.